# <u>مطبوعاتی اعلامیه</u>

## محمد بن سلمان، ایغوري مسلمانان د دوی دښمنانو ته تسلیم کړل

**(إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ)**

*د واکمنانو ترټولو بد کسان هغه کسان دي، چې له خپلو خلکو سره سخت چلند کوي.*

(ژباړه)

محمد بن سلمان له دې پرته چې د الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو پر وړاندې په کومه کچه خیانت کوي، هڅه کوي له هر ډول لارو چارو څخه په کټې اخیستنې سره په واک کې پاتې شي. کله چې محمد بن سلمان د خبریال خاشوقجي په وژلو کې په لاس درلودلو پېر وګڼل شو او د دې پر وړاندې غبرګونه را پورته شول، چې باید له واکه ګوښه کړل شي، ده هڅه وکړه، چې غربي اشغالګرو ته خپله وفاداري د ځینو قدمونو په پورته کولو سره څرګنده کړي؛ هغه د سیاحت او ساتېرۍ تر نامه لاندې د سعودي عربستان دننه په پراخه کچه د فساد او بداخلاقۍ د خپرولو لپاره دروازه پرانیسته؛ هغه د عرب او غیر عرب سندرغاړي او هنرمندان، د کانسرټونو د اجراکولو لپاره خپل هېواد ته ور وبلل، په ورته وخت کې یې په سلګونو، حتی پر زرګونو مسلمانان زندانونو ته واچول.

محمد بن سلمان هڅه کوي، چې د ده پر وړاندې د نړیوالو تر عامه نظرونو مخکې خپل تصویر روښانه کړي، د دې چارې لپاره یې یو لړ سوداګریز تړونونه له ګڼ شمېر هېوادونو سره د دې لپاره لاسلیک کړل، چې د ده پروژه(تر ۲۰۳۰ کاله لرلید) دوام لري او پر مخ روانه ده. ده خپل سیورۍ د خاشوقجي تر وژنې وروسته، د سعودي د پانګونې په هغه کنفرانس کې هغه مهال کم رنګه ولید، کله چې د ۲۰۱۸ د اکتوبر په ۲۳ مه د (دووس په دښته کې) ونیول شو او ګڼ شمېر نړیوالو چارواکي او سوداګر ترې بهر شول. ده له پاکستان، هند، چین او اندونیزیا سره د یو سفر په ترڅ کې د میلیاردونو ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیک کړل.

محمد بن سلمان چین ته په خپل سفر سره، نه یوازې چې له دوی سره یې تړونونه لاسلیک کړل، بلکې چینایي چارواکو ته یې په ختیځ ترکستان(سینګیانګ) کې د ایغورو مسلمانانو پر وړاندې د وحشي کمپاین په تړاو شین څراغ ورکړ. د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په قول، د چین (CCTV) وایي، چې محمد بن سلمان د چین د ولسمشر شي جینپینګ سره د لیدنې پر مهال وویل؛ «چین حق لري چې د خپل ملي امنیت د خوندیتوب لپاره، د ترهګرۍ او افراطیت پر وړاندې مبارزه وکړي»

محمد بن سلمان، د ختیځ ترکستان پر مسلمانانو ظلم، د چینایانو حق وښود، په داسې حال کې چې په نړیوالو رسنیو کې د ختیځ ترکستان پر مسلمانانو د ظلم غنده وشوه. په دې ډول سره ده له چینایي چارواکو سره په دې ظلم کې د یو ګډونوال په توګه خپل ځان ثابت کړ. هغه پر خپل ځان دا شاهدي ورکړه، چې دی له سفها Sufaha (سپین سترګو) ډلې څخه دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ګواښ کړی. له جبیر بن عبدالله څخه روایت دی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم کعب ابن اجرا ته وویل: :«**أَعَاذَكَ اللهُ مِنْ إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ**». **قال: وَمَا إِمَارَةُ السُّفَهَاءِ؟ قال:** «**أُمَرَاءُ يَكُونُونَ بَعْدِي، لَا يَقْتَدُونَ بِهَدْيِي، وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي، فَمَنْ صَدَّقَهُمْ بِكَذِبِهِمْ، وَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ، فَأُولَئِكَ لَيْسُوا مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُمْ، وَلَا يَرِدُوا عَلَيَّ حَوْضِي، وَمَنْ لَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكَذِبِهِمْ، وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ، فَأُولَئِكَ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ، وَسَيَرِدُوا عَلَيَّ حَوْضِي...**» الله سبحانه وتعالی دې تا د سفها له مشرۍ څخه وساتي، هغه وویل د سفها مشري څه ډول ده؟ هغه وویل. دوی له ما (ص) وروسته مشران دي، دوی د ما په لارښونه عمل نه کوي او زما په سنتو منګولې نه لګوي، هر هغه څوک چې د دوی پر درواغو باور کوي او له دوی سره په ظلم کې مرسته کوي، هغه له ما څخه نه دی او زه له دوی څخه نه یم، او دوی به زما ډله (Hawdh) کې نه راځي. او هغه کسان چې د دوی په درواغو باور باور نه کوي او له دوی سره یې په ظلم کولو کې مرسته نه کوي، دوی له ما څخه دي او زه له دوی څخه، او دوی به زما ډله کې راځي.»

اې په انقلابي ځمکه کې زموږ خلکو!

د دغه حدیث له تفصیل څخه دا کس سفه Safeeh (سپین سترګی) شمېرل کیږي. «**إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ**» *د واکمنانو تر ټولو بد کسان هغه کسان دي، چې له خپلو خلکو سره سخت چلند کوي.*

اوس به تاسي ته دا څرګنده شوې وي، چې محمد بن سلمان د خپل پلار له لوري پر تاسي حاکم ټاکل شوی، په دغو ظلمونو کې يې ځان ګډونوال ثابت کړ. ده غرب ته د خپلې وفادارۍ د ښودلو په برخه کې ګړندیتوب غوره کړی، د امت دار ایي د هغو کفارو حکامو د خوشحاله کولو لپاره لګوي، چې ستاسي په ورونو او دین باندې ظلم او ستم کوي. تاسي باید د ده پر ظلم او په ترکستان (سینګیانګ) کې د خپلو ورونو پر ناهیلۍ باندې چوپ پاتې نه شئ. سربېره پر دې اسلام تاسي ته امر کوي، چې د ده پر وړاندې ودریږئ او له دندې يې ګوښه کړئ او دا انقلابي ځمکه د ده او د ده د ډلې له کثافت څخه پاکه کړئ. شریعت تاسي ته امر کوي، چې د ختیځ ترکستان مسلمانانو ورونو داسې ملاتړ وکړئ، لکه څرنګه چې په فلسطین، کشمیر او نورو اسلامي هېوادونو کې د خپلو مسلمانانو ورونو ملاتړ کوئ. مونږ تاسو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول په یاد راوړو چې هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**سَيِّدُ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَرَجُلٌ قَامَ إِلَى إِمَامٍ جَائِرٍ فَأَمَرَهُ وَنَهَاهُ فَقَتَلَهُ**» *د شهیدان سردار حمزه بن عبد المطلب دی او بل هغه کس دی، چې د ظالم حکام د ظلم پر وړاندې ودریږي او په پایله کې شهید شي.*

نو، خپل دین ته مو خپله فریضه او باور په ډاګه کړئ، ستاسي عزت د هغو کسانو له امله دی چې بشریت ته يې بهترین امت وړاندې کړ او خلک يې له بدۍ منع او ښېګڼو ته را وبلل، دا ستاسي د دنیا او اخرت لپاره بریا او وړیا دی.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**
**داکټر عثمان بخاش**
**۱۴۴۰ هه، د جمال الاثانی ۲۰ مه**
**۲۰۱۹ ز، د فیبروري ۲۵ مه، دوشنبې**
**شمېره: 1440AH/ 019**